هفته نامه

دجهاد هنداره

مرات الجهاد

لومړي کال (۱٦) ګڼه ۱۳٦۹ هـ ش کال دمرغومي (۱۲)مه

په هرات کې مجاهدینو ۱۷۹ تنه پوځیان وژلي او۱٦ تنه یې ژوندي نیولي دي

دمیډیا په حواله په رارسیدلو خبرونوکی ویل شوي دي چي ترسختو دهرات ولایت سربښندونکو مجاهدینو دجدي په لمړی نیټه دهرات دقول- اردوقرارګاوی اوپوځي اډی اوهم دزنده جان په ولسوالۍ کی درژیم پوستی بریدونو لاندی راوستي دي . چی په نتیجه کی ۱۷۹ تنه پوځیان د٤ تنو منصبدارانو په

په (۸) مخ کي

په بادغیس کې د دښمن ۱۰۰ تنه پلویان ځپل شویدي

په اتم مخ کي

پرافغانانودټولي نړۍ مسلمانان افتخارکوي، ځکه چي داسلام دعظمت اودکفر دماتي کارنامه [illegible] په مټو ترسره شوه

„ الحاج حقاني

PROPERTY OF ACKU

په (۳) مخ کي

اظهارندامت ازمداخله در امورافغانستان

رادیو مسکو بمناسبت یازدهمین سالګرد حمله قوای روس به افغانستان اعلام نموده است که فرستادن نیروهای روسي به افغانستان یك تصمیم غلط بودکه درنتیجه آن مردم شوروي تلفات چشمګیری رامتحمل شدند.

رادیو ګفته است رهبري جدید روسیه درراْس ګرباچف قوای روس راازافغانستان خارج نمود ، این تصمیم غلط ازطرف دومین کنګره نماینده ګان مردم روسیه نیزتقبیح ګردید.

همچنان درکلیسای جامعه مسکو نیزمجلس سوګـواري به یاد آن سپاهیان روسي که درافغانستان به هلاکت رسیده اند برپا ګردید .

په نیول شوي کشمیر کې یو شمیرسرکاري عمارتونه په بمونو والوزول شول

سرینګر دسمبر ۲۹

دنوای وقت ورځپاڼی په حواله له نیول شوی کشمیر ته دراغلیو راپوړونو له مخی ویل کیږی چی په کشمیر کی لا حالات همغسی خراب دی ، هندی پوځونو دکشمیر پر مسلمانانو ظلمونه جاری ساتلی اودسرینګر په شمول په شپږو ښارونو کی تراوسه بندیزونه لګول شویدی ، کورپه کورتلاشی شوی ، (٤۰) تنه کشمیری مجاهدین نیول شوی اویو تن دګولۍ په واسطه وژل شویدی پرون دکشمیر په مختلفو ځایونو کی اته چاودنی وشوی چی پکی یوشمیر سرکاری تعمیرونه ویجاړشول .

دبنګله دیش یوی ډلی بندیانو بغاوت وکړ

دډاکی په مرکزي بندیخانه کی یوی ډلی هغو بندیانو چی دآزادیدولپاره یی هڅه کوله دجدي په ۸ نیټه دبنګله دیش د پولیسو له خوا پری ډزی وشوی اولږ ترلږه (۱۰۰) تنه بندیان یی ټپیان کړل .

دغو بندیانوادعا کوله چی دوي دپخواني جمهوررئیس حسین محمدارشاد دقدرت په وخت کی پوځي محکمو بندیان کړیدي اوس چی هغه استعفا کړیده نوددوي سزا هم باید ختمه شي.

په دی اونۍ کې په اته زره روسي یهودیان اسرائیلو ته ولاړشي

بیت المقدس:

د ۱۹۹۰ کال په وروستۍ اونۍ کی به اته زره یهودیان له روسیې نه بیت المقدس ته ولاړشي اوهلته به میشته شي په دي ډول به دسږکال په اوږدو کی په اسرائیلو کی دمیشته شویو روسي یهودیانو شمیر دوه لکو تنو ته ورسیږي.په تیره اونۍ کی هم دوولس زره یهودیان اسرائیلو ته رسیدلي وو.

مجاهدینو ۳۵ عرادې ټانکونه اوموټرغنیمت ونیول

میډیا ته په راغلو خبرونو کي ویل شویدي چي زړورمجاهدینو دقوس په ۲۹ نیټه دخلم په تنګي کې دکابل رژیم په اکمالاتي قطارحمله وکړه .

ددي حملي له امله درژیم ۳۵ عرادې ټانکونه اونقلیه وسیلې مجاهدینو په غنیمت نیولي اودري عرادي نورټانکونه یي سوځولي دي .

په خبرکي ښکاره شویده چي پدي عملیاتو کي درژیم ٤٦ تنه ملیشیان له وسلو سره دمجاهدینوله خوا نیول شویدي.

درژیم دوه تنه منصبداران ژوندي ونیول شول

دهغو رپوټونو له مخي چي دلوګر ځخه رارسیدلي دي ویل شوي چي دمجاهدینوپه بریالیو عملیاتو کي چي دجدي په دریمه نیټه یي ددښمن پر مرکزونو باندي ترسره کړي دبغلان داتیا یمي فرقي سیاسي معاون اوقوماندان ډګرمن سیدزمان اودکابل دلسمي امنیتي حوزي مسوٌول امیرمحمد ژوندي نیول شویدي.

درژیم دغه دوه تنه منصبداران هغه وخت ونیول شول چي مجاهدینو دمحمد آغي دولسوالۍ په ګهون ددښمن څوسترمرکزونه فتح کړل .په دغو عملیاتو کي ۸ تنه مجاهدین شهیدان او۱۵ تنه ټپیان شویدي .

عراق راکت های دوربرد خودرا ازمایش کرد

مقامات وزارت دفاع امریکا اعلام نمود ه اند که عراق باردیګر یك راکت برد طویل خودراازموده است .

مقامات وزارت دفاع ګفتند که این راکټ که ازشرق بطرف غرب پرتاب ګردید درنزدیك سرحد عراق دورترازمحلی تمرکزقوای ایالات متحده ومتحدین اصابت نمود .

یك نطاق نظامی درعربستان سعودی درربطه ګفت : ازمایش راکت که طی هفته جاری این دومین بود بخشی ازپروګرام ازمایشی عراق بنظر میخورد .

دملګروملتونو دعمومي اسمبلي رئیس فلسطیني کمپونه ګوري

په (۸)مخ کی

سرمقاله

دروسي امپراتوري زوال خو دچا له لاسه؟!

نن موږدتاریخ دیوی ستری حادثی شاهدان یو ، دیوی داسی ستری حادثی چی دتاریخ په پاڼو کی یی کم مثالونه دی ، نن موږدیوه دوران ، یو تحریك یوه جریان اویوی ایډیالوژۍ دماتی ، اضمحلال اوتباهودی شاهدیو چی دتوپان اوپهبو کی په ځیریی په لړه موده کی دنړۍ زیات ولسونه په خپله لمنه کی رانښکیل کړل اودبنکیل اوتسخیر پروسه یی ډیره ګړندۍ پر مخ روانه وه .

پاتي په ۸ مخ

دایه داګه وایو : هرهغه حکومت چي دانستکبارپه خوښه جوړیږي هغه به عیناً دتره کي ، امین ، ببرك اونجیب دمزدورو حکومتونو په څیر وي چي هیڅ مستقل حیثیت اواعتبارپه نه لري

«الحاج حقاني»

د جهاد هنداره

مؤسس : الحاج مولانا جلال الدین حقاني

د تأسیس کال : (۱۳۶۹) هجري شمسي

عبدالله

ولې روسان دکابل حکومت سره لاهم مرسته کوي ؟

په دی ورځو کی روسان دسخت اقتصادی بحران اودخوراکی موادودنشتوالی سره مخامخ دی هغه یرغلگره اوخونړۍ امپراطوری چی د«زیارکښانو» په نامه یی دنړیٔ خواراوبی وزلی هیوادونه په بی رحمۍ سره استثمارول ، دهغوی مادی اومعنوی پانگی یی لوټ کولی نن دی ته اړشوی چی دسوال اودرویزې لاس نړیوالوته اوږد کړی . روس هغه بی رحمه استعماری قوت ؤ چی نه یواځی دیو هیواد په معدنونو ، زراعت اونوروطبعی شتمنیو باندی یی خیټه اچوله بلکه دکرملین دشیطانی سلطی دلا ټینگولو دپاره یی دمستعمره هیوادونومستعداومتفکرمغزونه دیرغملوپه شان پخپل بند کی ساتل که کله به دختیځی اروپا په کوم هیواد یا دروس داقمارو نه په کوم ځای کی دفوق العاده استعداد څښتن پیداکیدلو هغه به په چل ول اویا په زورسره روسیی ته بیول کیدلو اودی ته به مجبوریدلو چی د«شوراگانوسترهیواد !» ته خدمت وکړی . تاریخ پوهان وایی چی په صنعتی برخه کی دادومره پرمختگ هم چی روسانو کړی دادهغو المانی ، چکی ، پولینډی ...کارگرانو ، ماهرینو اوانجنیرانو دکارثمره ده چی ددوهم نړیوال جنگ نه وروسته دروسانوپه واسطه داسیرانو په شکل مسکوته بوتلل شول اوکه نه روس په اروپا کی تل دساده اوجاهل قوم په نوم شهرت لری ،خودغو ټولو ظلمونو ، چل ولونو دباطلی عقیدی اوپر هغی باندی ولاړ ی ظالمی امپراطورۍ هیڅ درد دوانه کړاونن یی دلوږی اوقحطی رنځ دومره ځوروی چی خپل پرونی هیبت یی هیراودگدایی کچکول په لاس په درویزه بوخته ده ، اوغربی نړۍ هم پوره مرسته ورسره کوی.

خوپوښتی ډیرحیرانوونکی دی اوهغه داچی روسان دخپل دغه وران ویجاړاقتصاد نه دراپورته شویوستونځو سره سره اودهغی قحطۍ سره سره چی خلك یی ورسره مخامخ دی بیا هم دکابل رژیم سره هره میاشت دسلهاوملیونو ډالرو پوځی مرسته کوی .

روسان دخپل اقتصادی خراب حالت په وجه دشرقی اروپا نه تیرشول خوداکثره صاحب نظرانو دوینا په اساس ترورروستۍ لحظی پوري اونهایت خراب اقتصادی حالت سره سره به دوی دکابل مزدوررژیم ته دکومکونو لړۍ جاری وساتی ، داواقعاً دتعجب خبره ده .

دهغه رژیم حمایت چی نه یی خلك غواړی اونه یی نړیوال تصدیقوی ددومره مصرف ارزښت نه لری چی روسان دی په نیمه گیډه گرځی خونجیب ته دی تیل ، خوراکی مواد اووسلی لیږدول کیږی .

خوځنی علما دروسانو دغه عمل ته یوشمیرتوجیهات لری ، مثلاً داچی روسان په افغانستان کی دگوډاگی حکومت په درلودلو اوپه افغانستان کی دحضورلرلو نه گټه ترلاسه

په (۷) مخ کې

افغانان را باید آزاد گذاشت تا سرنوشت خود را خود تعین کنند

بعدازخروج قوای روسی ازافغانستان درپالیسی روسیه به استثنای افغانستان دربرابر کشورهای اروپای شرقی وتمام سایر رژیم های که تحت سلطه مسکو بودند ، یك چرخش اشکارا بعمل امد.

این مطلب نتیجه گیری مختصر دانشمندان اهل نظر پیرامون افغانستان است که درمصاحبه اختصاصی رادیو صدای امـریکا بمـناسبت یازدهمـین سالروزتجاوزروسیه برافغانستان انعکاس یافته است.

انها گفتند : بعد ازخروج ازافغانستان روسها حجم مداخله درامورداخلی رژیم های دست نشانده رابمرورزمان کاسته به حق خودارادیت انها وقعی گذاشتند . براساس پالیسی جدید مسکو درشرق اروپا تغیرات به اسانی صورت گرفت اما درمورد افغانستان عقیده اهل نظراینست که بعد ازخروج قوای روسی درپالیسی مداخله گرانه مسکو تغیراتی رونما نگردیده بلکه پالیسی مداخـله گـرانه مسکو درامورافغانستان همچنان ادامه دارد .

«انتونی ارنولد» که یکی ازافراد صاحب نظردررابطه به افغانستان است ودارای دوکتاب درزمینه میباشد میگوید روسها بدوعلت درامورداخلی افغانستان مداخله می کنند.

یکی اینکه نجیب یگانه رژیم دست نشانده روسیه است که درزمـان گرباچف بقدرت رسانـیده شده است وگرباچف خودرامکلف به دفاع ازنجیب وتثبیت دوام قدرت وی، درامورداخـلی افـغانستان مـــــی داند .

دلیل دوم اینست که میان کی ، جی ، بی دستگاه پولیس مخفی روسیه ونجیب روابط وعلایق بخصوص موجوداست.

ارنولد می افزاید : بنا برهمین روابط بخصوص بودکه بعد ازبرکناری ببرك کارمل نه کدام شخص سابقه دارحزب، بلکه نجیب جانشین ان برگزیده شد.

به عقیده موصوف روی همین علل است که پالیسی روسیه

> نجیب یگانه رژیم دست نشانده روسیه است که درزمان گرباچف بقدرت رسانیده شده است وگرباچف خودرا مکلف به دفاع ازنجیب وتثبیت دوام قدرت وی ، درامورداخلي افغانستان مـــــی داند

درموردافغانستان با پالیسی عمومی انکشورتفاوت داشته وبصورت یك پالیسی بخصوص طرح وخاصتاً تطبیق میگردد.

«تامس گوتیر» رئیس موسسه مطالعات بین المللی پوهنتون نبراسکا معتقد است که روسیه ازجهـتی ازرژیـم موجودافغانستان حمایت می نمایـد کـه انکشورازاینده جمهوری های همسرحد باافغانستان نگرانی دارد.

به عقیده گوتیر: روسها فکر می کنند اگر درافغانستان به عوض نجیب شخص دیگری بقدرت برسد ممکن است درجمهوری های اسیا ی میانهٔ شوروی به جنبش اسلامی کمك نموده ثبات واستقراراوضاع رادرانجابرهم بزند.

گوتیر میگوید: برعلاوه این تشویش ها ، مقامات نظامی روسیه رژیم نجیب رایگانه دست. آورد تجاوزبرافغانستان دانسته ونمیخواهند که این رژیم سرنگون گردد.

همچنان گوتیر گفته است که نظامیان شوروی سرنگونی رژیم نجیب را برای خویش شکنست تلقی نموده وبنابرین علت است که نظامیان روسیه بردولت فشاروارد می نمایند تابه پالیسی جاری که هدف ان حمایت وپشتیبانی ازرژیم نجیب میباشد ادامه دهند.

پروفیسور«روبن » استاد پوهنتون کولمبیا ی نیویارک دررابطه به پالیسی روان روسیه درمقابل افغانستان بدین نظراست : باوجودیکه تغیرات درروسیه بمیان امده ونظام سوسیالیستی رویه انهدام میباشد ولی دولت روسیه خودرایکی ازقدرت های بزرگ جهان دانسته وتااکنون رژیمهای دست نشانده درجهان دارد .

به گفته «روبن » روسیه نمیخواهد باین عمل تشهیر گردد که درحالات دشواردست ازحمایت رژیم های دست نشانده برمیدارد.

«روبن » می افزاید هدف روسیه درافغانستان اینست تانگذارد که رژیم کابل رامجاهدین سقوط دهند باوجوداین فکر نمیکنم که روسها درپی ان باشند که نجیب رابرای همیشه برکرسی قدرت نگهدارند

واینکاربنابردشواریهای داخلی روسیه نیزناممکن میباشد .

«روبن » با «گوتیر» هم عقیده شده میگوید روسها ازین بیم دارند که اگر مجاهدین نجیب راسرنگون سازند این امرازیکطرف به جمهوری های اسیا ی میانه الگوخواهدشدوازطرف دیگر به حیثیت وابروی مسکو بحیث یك قدرت بزرگ صدمه خواهد زد،اما اگر به مشکلات داخلی روسیه توجه شو د میتوان گفت که روسیه اماده خواهد بود ازطریق مذاکرات قدرت به حکومتی انتقال گردد که

بقیه درصفحه « ۷ »

په افغانستان کې به داسلامي حکومت ترجوړيدو پورې له مجاهدينو سره ملاتړ کوو (قبايلي مشران)

دستمبر ۳۰ مه جنگ ورځپاڼه دشمالي وزيرستان ايجنسۍ قبايلي مشرانو (۱٤) کسيزهيئت نن اعلان وکړچې داسلامي حکومت ترقيام پورې به له مجاهدينو سره مرسته کوو ،هغوي ويلي چې څو پوک پرستان دمجاهدينو دلکونوتنوقرباني ترپښولاندې کول غواړي ځان پلورونکي قبايليان بايد وپوهيږي چې هغوي دلکونو کسانو ملاتړ څه چې څو دگوتو په شمير کسان هم په خپلودغو شومو اهدافو کې دځان ملگري نشي کولای ، په دغه هيئت کې ملك الحاج معمورخان ، الحاج ملك سرورجان ، ملك عبدالودود، ملك شاه جهان ، الحاج ملك زمان خان ، الحاج ملك شاه محمودخان ، ملك گل قيوم خان ، حاجي ملك نيك خان ، حاجي ملك عبدالله دين خان ، ملك گل بهرام خان ، ملك حضرت خان اوملك متاني خان شامل دي ، هغوځنوجهاددښمنو کسانو ته اشاره وکړه ويې ويل چې هغه کله دافغانستان دحکومت خواته ورشي دپاکستان پرخلاف عمل کوي اوکله دپاکستان له لوري دافغانستان دحکومت پر خلاف ولاړوي ،دغه مشرانو په يوه خبري کنفرانس کې دغه خبري کولی ويلي دي چې موږبه په کلکه دخپلو مجاهدو افغانو ملاتړ اوحمايه جاري ساتو .

پر افغانانو دټولي نړۍ مسلمانان افتخار کوي ځکه چې داسلام دعظمت اودکفر د ماتي کارنامه ددوي په مټوترسره شوه

«الحاج حقاني»

ترتیب: سلطان، صدیقي
ژباړن: طاهر

دمجاهدینو دقوماندانانو اوعالمانو دګډې شورا کنفرانس ته دالحاج مولوي جلال الدین حقاني اومولوي عبدالله ذاکري وینا ؤمتن:

دډسمبر په ۲٤مه نیټه دپېښورسره نږدې په پېو کې دافغاني علماو دشورى په دفترکـــي دعـلـمـأ و اوقوماندانانودشورې یوګډ کنفرانس جوړکړای شو چې وروسته بې دجلسې شکل اختیارکړېدې ګډه غونډه کې یوه ګډه اعلامیه ترتیب کړای شوه چې په افغانستان کې داسلامي نظام تر راوستو پورې دجـهـاد ددوام پـوره ملاتړاوملګرتیا سره سره دافغانستان دشخړې داوارې لپاره دملګرو ملتو، روس اوامریکا دګډو توطئو غندنه دعلما و او قوماندانانو په ګډون دیوې ګډې کمیټې دجوړولو فیصله هم وشوه ترڅو په افغانستان کې دیوه اسلامي حکومت دجوړېدو طرحه اوډپالیسي جوړولو مسؤلیت په غاړه ولري. غونډې ته دوینا کولو په وخت کې الحاج مولوي جلال الدین حقاني وویل: دکومو مقصدونو لپاره چې دغه شورى رابللې شوې وه دهغې ټول تفصیل تاسې ته مولوي ذاکري صاحب بیان کړو دالله تعالى په فضل اوکرم سره په دغو کاروترېخوا لا زیات اذهان ښه روښانه شوي دي.

اودګډې غونډې په وخت کې وربانذې اتفاق راغلی دی.

دلته دا فیصله وشوه چې کوم سازشـــونه اوتجـــویزونه دکافرانولخوا په موږ باندې تپل کیږي هغه مردوداومنلو وړندي اونه یې قبلوو دافیصله هم وشوه چې دفتنې دورکیدو وروسته به موږدغلته یوداسې اسلامي حکومت راولو چې داسلامي اصولو دقواعدو اوضوابطو له مخې دیو اسلامي قیادت له لارې رامنځ ته شوې وي، دالله (ج) په فضل اوکرم سره به موږېدې خبره باندې عمل کوو، دادخپل خدای (ج) په حضورکې زموږوعده ده اوداداسې وعده ده چې دالله (ج) له طرفه موږپه هغې مکلف یو اوددغې وعدې حاصلول ددغو پریکړو تطبیقول اودهغو دعملي کولو لپاره زموږهلي ځلې اوپر خپلو پریکړو پابندي فرض عین ده په دې لړ کې زما دنوروتفصیلاتو ضرورت نشته یوازې دیوې خبرې ښکاره کول ضروري ګڼم اوهغه داچې دحالاتو، واقعاتو، مسایلو، ستونزو، وسایلو، اوشرایطو له مخې دافغانستان مسلمان ملت په ګروپونو، اوډلوباندې ویشل شوي چېرته دعالمانو ډله، چېرته دمجاهدینو ډله یوځای دقوماندانانو ګروپ اوبل ځای دمهاجرینو ډله جوړه شویده.

هغه خلك چې حالات، واقعات، وسایل، اوشرایط په پام کې نه نیسي نووایي چې ګني داټول بیل بیل دي اوپخپلو کې په ګروپونو باندې ویشلي شویدي اوهیڅکله یوکیدای نشي اوددوی بیل بیل مرامونه اومقصدونه دي.

کافران دمسلمانانو په شان یودین اویو مقصد نلري اوپه هر ځای کې ذاتي اومادي ګټې ګوري اوپردنیا وي مقصدونو باندې یې نظر وي هغوی مسلمانان هم دخپل ځان په څیر ګڼي اوفکرکوي چې دافغانانو سره کومه معامله کول وي نو دعالمانو سره ځانته خبرې وشي له قوماندانانو سره ځانته اودنوروسره دي په جداډول روابط وساتل شي څني ساده خلك په دې وغولیږي اوخپل ملګري دځان څخه جداوګڼي زمااصلي هدف اومقصد دادې چې دانسانانو دوه ډلې دي یوه دکافرانواودوهمه دمسلمانانو ده کافر چې په هرځاي کې وي هره ژبه ووایي رنګ یې چې هرڅنګه وي ټوله یوه ډله ده.

اومسلمان که ددنیا په هرکونج کې وي، که هره ژبه وایي اوهررنګ لباس اوجامه چې اغوندي یوه ډله اودیو امت برخه ده.

همدارنګه افغان مهاجر، مجاهد، قوماندان، عالم، ملك، خان، مالدار، سوداګر، غریب، سړي، ښځه، ماشوم، زوړاوځوان ټول مسلمانان دي اودیوې ډلې خلك دي تاسې پوهیږئ چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي چې زما په امت کې به یوه ډله په هرحالت کې داسلام لپاره جنګیږي اوداسلام په دښمنانو باندې به غالبه اوبریالي وي.

کافر چې په هرځاى کې وي هره ژبه ووایي اورنګ یې چې هرڅنګه وي ټوله یوه ډله ده. اومسلمان که ددنیا په هرکونج کې وي، هره ژبه وایي اوهر رنګ لباس اوجامه چې اغوندي یوه ډله اودیو امت برخه ده

افغانانوهم داسلام دښمنانو په مقابل کې جهاد وکړ، چاهجرت وکړچا دمجاهدینو دکامیابۍ اوکامرانۍ لپاره دالله تعالى څخه دعا وغوښته چامال ولګاوه چا دژبې اوقلم له لارې دعوت اوتبلیغ وکړ اوچا دخپل ځان اوبدن په واسطه جهادوکړ نوداټول دخیر پدې کارکې په مختلفو طریقو ګډاوشریك دي عالمانو دجهاد فتوی ورکړه.

تبلیغ اوتقریر ونه یې وکړل اوخلکو ته یې دهجرت، جهاد اوقتال دعوت ورکړ. لنډه داچې افغانان هغه قوم اوهغه ډله ده چې داسلام لپاره وجنګیدل اوپه کافرانو باندې غالب شول.

دټولې نړۍ مسلمانانو دمال، عقیدې، اوددعا له مخې پدې جهاد کې شریك دي اودافغانانو سره په کامیابیو اوکامرانیو کې هم برابره ونډه لري.

ددغې جهاد په حق کې دټولې نړۍ څخه فتواګاني راغلې اوټولو زموږملګرتیا وکړه، اوس نودمسلمانانو په دغه ډله دټولې نړۍ مسلمانان افتخارکوي ځکه چې داسلام عظمت اودکفر شکست دهمدوی په لاسونو اومټو ترسره شو.

څنګه چې ذاکري صاحب وویل اوموږټولو ورسره لوظ وکړو

په (٦) مخ کې

په افغانستان باندې دروسي استکبار یرغل دجلا جلا غونډو په ترځ کې وغندل شو

دروسي پوځ دتیرې دیوولسم تلین دغندنې په کنفرانسونوکې چې دافغانستان دمؤقت اسلامي حکومت اودافغانستان دحزب اسلامي (حکمتیار) په اهتمام چې دپېبې کمپ دسیمینارونو په تالاراودجهاد پوهنتون په سیمه کې دجدي په ٦ نیټه جوړشوي ؤ په زرګونو تنومجاهدینو، مهاجرینو اوانصارو وروڼو برخه اخستې وه.

دافغانستان دموّقت اسلامي حکومت په کنفرانس کې دافغانستان داسلامي اتحاد مشر استاد سیاف، دجمعیت اسلامي لارښود استاد رباني دمحاذملي اسلامي مرستیال محترم ډاکترفاروق اعظم اودمختلفو تنظیمونو غړیو هم برخه درلوده.

کنفرانس دقرآن عظیم الشان دځومبارکو ایاتونو په تلاوت سره پیل شو.

لمړی استادرباني یوه ارزښتناکه ویناوکړه اوویې ویل روسانو ته دکمونیزم دنامه پرته بل هیڅ شي ندي پاتي اوهم یې دافغانستان دجهاد پر مثبتو اغیزوږنا واچوله زیاته یې کړه چې زموږجهاد دنړۍ پر اسلامي تحریکونو باندې مثبته اغیزه کړې اودهغو کاراومبارزه یې تنده کړیده.

استاد رباني په پاي کې دمجاهدینو داختلافاتو په هکله وویل چې موږباید په خپل کارکې تجدید نظر وکړو اوهم یې دنجیب سره ناسته ولاړه وغندله اوڅرګنده یې کړه چې حتى روسان هم اوس دنجیب داستان په ختمیدو بولي

وروسې استادسیاف له محتوا نه ډکې وینا په ترځ کې وویل: خدای (ج) دې موږته برې په نصیب کړي چې دجدي بله شپږمه په کابل کې تقبیح کړو اوخدای (ج) دې دجهاد مسوولینو ته اتحاد اواتفاق توفیق ورپه برخه کړي.

استاد سیاف څرګنده کړه هغه څوك چې فکر کوي چې کفارپر موږغرض نه کوي نوپه خپل ایمان دې وویرېږي اوڅوك چې کافر انوته دوستان وایي یواځې خپل ځان سره نه بلکې له قرآن دین اوولس سره جفا کوي.

ده زیاته کړه: دامریکا په اشاره له عربي هیوادونه روس ته پیسې لیږل کیږي چې نجیب په کابل کې پرې تقویه کړي. سعودي له روسانوسره څلورملیارده ډالره کمك کړي چې نجیب پرې وساتي دکویټ همدې بدبخته فراري حکومت چې موږیې دمظلومیت په خاطر خپل ملاتړورسره اعلان کړ، ۵۰۰ ملیونه ډالره روسانو ته ورکړل چې په کابل کې نجیب پرې تقویه کړي ټول مسلمانان په غلامۍ کې ژوند کوي مګر داغلامي بې له جهادنه نه شي ختمیدي.

استادسیاف خپلې خبرې دمړه دې وي هغه کسان چې جهاد خرڅوي، مړه دې وي هغه کسان چې دشهیدانو په وینو پښې ږدي دشعارونو په ورکولو سره چې دحاضرینو له خوا بدرګه کیدې پاي ته ورسولې.

وروسته له هغه ډاکټر نجیب الله لفرایي دجدي د٦ نیټې دغندنې په مناسبت پریکړه لیك ولوست اوبیا دډاکټرفاروق اعظم په دعائیې سره کنفرانس په ۱۲بجو او۲۰ دقیقو پاي ته ورسید.

همداوړدحزب اسلامي غونډه پداسې حال کې چې دغونډې ګډون کوونکو بیرغونه، دوروړحکمتیارعکسونه اوکفري ضد شعارونه یې له ځانه سره وړل دحضرت عمرفاروق (رض) دغنډ څخه یې دجهاد پوهنتون ترساحې پورې جلوس وایست اودمرګ پر روسیه، مرګ په نجیب مړه دې وي داسلام دښمنان ژوندي دې وي مجاهدین او...

وروسته بیا هغه ځاي ته ولاړل چې دغونډې لپاره ټاکل شوي ؤ.

غونډه دقرآن عظیم الشان په څوایاتونو سره پیل شوه اوبیا ددې حزب دتخطیط اوتنظیم دکمیسیون رئیس غلام مصطفی

په ٦ مخ

چاهیڅ نــه منلــه خود عصر تهرمان شومه
زه مثال دتوری ، قرباني په ټول جهان شومه
یادچی په «غازي میړه» اتل شهید افغان شومه
زه ژوندی تعبیر دتیرعظیم عزت اوشان شومه

***** *** ***

لناړی

مجاهد بیا تعرض ته لاړل
الله دې خیر کړي چې زخمیان نشي مینه

که مجاهدیې ټوپک واخلـه!
په خوست تعرض دی په دښمن وکړه وار ئې

ورشه ټوپک ګردنۍ واخله!
اسلامي ننګ دی چې بې ننګ نشي مینه

زما په مغو سلام و ایــه!
چې سپین ټټر یې «زنبک» خولې وینه

پاڅه ستنګړ ودریږې واخله!
دپاسه راغلل دملحد رژیم جانو نه

رالیږونکی: نور ولی خان

ورانه شوه دنیا دمینې

اسدالله جنیفي

پرېښ ده زما ناګهانه نور دمینی لمن خوشې کړه
مینه زیاتی نشته دا دیار او چمن خوشې کړه

ورانه شوه دنیا دمینې توله کنډواله شوله
لاړ مشه کوه نشین شه نفرتونو چمن خوشې کړه

مینه خو هغه وه چې دنیا یې را نسکوره شـــوه
وسوله لمبه شوله دمینې خونه خپوره شوه
واوره زما دلـه ځای یې پرېښود نفرتونوته
مینه چې په لېږ دشوه د اخلاص ناوی سرتوره شوه

ای دجنیفي زړه ګوټي خو مره خوش باوره شي
څومره لیونۍ یې څومره خوښ له دې هنره یې
سترګې دې رو ړې کړه چې دریاب تورلاهو شي
مـه دروه ګر ننګ نه ور ګډ شوی بې ګودره یې

جهادی فولکلور

واحد له احمد څخه وپوښتل : پوهیږی چی ولی نجیب دمزدوررژیم جمهوررئیس ، دحزب سرمنشی اوانقلابی شورارئیس دی ؟

احمد ځوا ب ورکړ: ماته هم داپوښتنه پیدا شوی .

واحد ورته وویل : زه به یی ځواب درته ووایم ددی لپاره چی ګوډاګی رژیم دقحط الرجال سره مخامخ دی .

***

لنډه کیسه

پوښتنه یی مه کوه !!

دشهریار لیکنه

لیدلو ته یی زما ډیره تلوسه وی خوځه وکړم زه یی نه وینم خوچی کله یی په کوم جومات کی ووینم هغه هم بیچاره په داسی حال کی چی خیرن پټکی په سر په یوه پښه یی څپلۍ اوپه بله کلوشه وی زړی جامی اوزړه کورتۍ یی اغوستی وی دکورتۍ غټ ، غټ جیبونه یی دکاغذونو اوزړو ټوټو څخه ډک کړی وی تسبیح یی په غاړه وی اوزوړخیرن شادریی ترځان تاوکړی وی ، کله په یوه جومات کی شپه اوکله په بل جومات کی اوچی راسره مخامخ شی اوزه ورته ووایم چی سیدخان کاکا څرنګه یی ؟ نو جذباتی غوندی شی اوراته ووایی :

پوښتنه یی مکوه که خبرشی نوخوابدی به شی دده ددی جملی سره زما سترګو ته دده دواړه ځوانی مرګ زامن ودریږی په زړه کی می نری غوندی دردوګرځی اوسترګوته می اوښکی راشی اوربښتیا هم څوک چی دسیدخان کاکا دژونددنـــــامراده حالاتوڅخه خبرشی نوخوا بدی به شی .

هغه وخت ماته اوس هم ښه یاددی چی دشیرزمان کورته ددوو ورو زامنواویوی پرستنی سره رامهاجرشوی ؤ .

شیرزمان ماما هغه ظالمان ښه پــیژنی چاچــی دسیدخان کوروران اودی یی لیونی کړ.

خونه زه نه بل څوک اونه دی ددغو خلکو سره څه کولای شی ، ځکه چی ملکان دی اوبیا په دغه شاړه علاقه کی چی لاس دبری کاردی نوددوی څخه به څوک څه پوښتنه وکړی اولا دملکی سره سره یی دکابل دګوډاګی حکومت سره هم روابط ښه دی تګ راتګ یی جاری دی کله دلته اوکله هلته خوړل اوښل دی .

سیدخان خپل واړه زامن شیرزمان ته پریښودل اوپخپله بیرته وطن ته ولاړ ترڅو دیاسین اورحیم جان مورچی دظالمانو دلاسه په بمباری کی په حق رسیدلی ده ښخه کړی ځکه چی دبمباری څخه سمدلاسه وروسته یی خپل زامن دمرګه راخلاص کړی ؤ اودکډی مړی یی دکورپه یوه کوټه کی امانت پریښی ؤ ، دتلو په وخت شیرزمان ماما لوظ ورسره کړی ؤ .

چی ستادزامنو پالنه په خدای (ج) پاك اوپه ماشوه ته بی غمه اومطمئن اوسه دزامنو پالنی ته یی شیرزمان ښه متوجه ؤ . جومات ته به یی دسبق لپاره هم لیږل اوښه پام یی پری کولو خوبیا هم بی لوظه شود۸ میاشتو پوری دسیدخان مړی اوژوندی معلوم نشو په نهمه میاشت دغره ملکان زرمت خان اوتوردل خان خبرشول اوله ده څخه یی په وچ زوردغه کوچنیان یوړل چی ته غریب سړی یی پخپله دلوږی مری نورڅوك به څـه وساتی،ده هیڅ ورته نشو ویلای ځکه چی دی یی هم په کوټه کی اوسیده اوددوی مځکه یی په دهقانی کرله ، یاسین اورحیم جان یی ددیری دکاراودخپلوغواو دساتني لپاره بیولي وو دورځي له مخي به ئي ددیري خدمت ئې کاوه اوپیول وخرول ، کول اودشپې له مخی به یی غواووته دوریشتی

په (۵) مخ کی

ز ه تــر ی جــار شم چا چی ځان ترایمان جارکړ
ســو ړ خــزان یې چې بــدل په شنه بهارکړ
مالــه هـغو ننــګیالــو نه صــدقــه کړی
چــی اوچــت یــی دمـومن پت اوو قـارکړ

دولسي ادب په وړانګوکې

سیدخان وفادار

چې کامیاب نشوې په توپو او په ټانکو نجیبه!
څنګه کامیاب به شې په سکو و راکټو نجیبه!

لاړ شه نور پرېږده داوطن دیتیمانو کوردی
دادرېښتینو فدایانو اتلانو کور دی
آخر به خلاص نشې که خدائی کا په توبو نجیبه!
څنګه کامیاب به شې په سکو و راکټو نجیبه!

کامیاب به نشې داکه سکو لوی راکټونه لرې
بل ورسره که میګ خونکاریې جهازونه لرې
زړه ده ورکیږې له دې خاورې په شرمو نجیبه!
څنګه کامیاب به شې په سکو و راکټو نجیبه!

کامیاب به نه شې نن په سکو و تېنګېدلی نشې
سنګر زما دی ایماني هیڅ پرې ختلی نشې
تېروتی نشم ستا په پټو فریبــو نجیبه!
څنګه کامیاب به شې په سکو و راکټو نجیبه!

دغیرتونو بهیر

دکتاب نوم : دغیرتونو بهیر
لیکوال : حیات الله «وحدت»
دخپریدو نیټه : د۱۳٦۹ کال دغبرګولی (۲۵)
دچاپ شمیر : (۵۰۰۰)
کچه : ۱۸×۱۲ سم
مخونه : ۱٤۷

درنولوستونکو !

که څه هم چی کتاب څو میاشتی مخکی خپورشوی خوموږته لږوروسته راورسید اودجهاد دادبی پانګی دخوندی ساتلو په خاطر یی معرفی ستاسو مخی ته ږدو .

د «غیرتونو بهیر »دمحترم ورورحیات الله وحدت «وردګ» دجهادی خاطرو مجموعه ده چی دکیسې اوادب جامه یې وراغوستی اوپه دی توګه ښه په بریالیتوب سره توانیدلی دی چی زموږ دجهاد تاریخ ، زموږ دمجاهد ولس دمقاومت اوفداکارۍ ژوندی بیلګی اودوحشی روسانو دوحشت اوبربریت صحنی اوپیښنی دتاریخ پاڼو ته وسپاری .

دمحترم ورور«وحدت » صیب دااثر (دغیرتونو بهیر) په (۱٤۷) مخونو کی چاپ شوی چی پکی یی (۷) جهادي خاطری دکیسی په ښه ځای پر ځای کړی .

دغیرتونو بهیر زموږ دجهاد ښه رسا عکاسی کوی په کتاب کی چی کومی پیښنی انځورکړای شوی هغه دومره دردونکی اوزموږ دجهـــــاد پـــر واقعیتونومتکی دی چی لوستـــونکی دهـــغو په لوستلوسره داسی انګیری چی پخپله دی پیښوکی موجود دی کله چی لوستونکی د«سره ستوری څنګه ویلیدل» لولی.

په (۵)مخ کی

پوښتنه یې مه کوه !! ...

کوڅې ،دملګانو دکارسره سره به یې دناظرانوناخوالی هم ښیروې

دوي به ویلي چي داناخوالي دورکوتوالي نه زموږدتندو په کربنو کې لیکلي شوي دي کـه نه نو موږخو راځخه کمونستانو شهیده کړه نوپلار مو ددي ځایه دمرګ خولې ته بیا ولي تلو که نه نو اوس به مو کاربنه جوړواي یاسین دخوي څخه ډیر دروند پوه اوسنګین سړي

معلومیږی که څه هم عمر یی اوس ۲۰ کلونو ته رسیدلی دی خوخوی یی دسپین ږیرو دی اوکشررحـیم چـست چالاك اوقهرجن خوی لری ځوځو ځله یی دناظرانوسره ګوتی هم اچولی دي خودیاسین دمخه څه نه وایی ځکه چی دی خفه کیږی .

کله چی دواړه وروڼه ملکان زرمت اوتوردل سره بیلیدل ورسره سم دوی هم برخه شول مشرکشرملك ته

اوکشر مشر ملك ته په برخه کي ورسیدل اوس نو ددومظلومانو وروڼو ناسته ولاړه هم حرامه شوه په ورځو ورځو یوبل نه وینی چی څه حال دی ؟...

زیږمخونه ، چاودلی پوندی اوپښی ییلی ګرځی ، رحیم په زړه کی فکروکړ چی موږخومریان یو وطن باندی کمونستانو منګولی ښخی کړی اوپه موږباندی دوی.که هرڅنګه کیږی دد ی ځایه تښتم لالا می خبروم که راسره تلوخوښه اوکه نه تلو په الله (ج) یی سپارم څه ورځی پس یی یاسین په داسی حال کی چی دتانتوغټ ګیډی یی په شا اودناظرصاحب زوی یی په غیږ کی نیولی دی غږیی پری وکړلا لا ! داغږ په یاسین باندی دتندرپه شان ولګیده پښی یی ورپیدی رنګ یی والوت اووارخطا غوندی شو چی ګنی رحیم جان بیا څه چل کړیدی . ګیډی یې پولی ته کیښودو ستړی مشی یې سره وکړل پوښتنه یې ځنی وکړه چي خیرخوبه وی رحیم ځواب ورکړچی بس لا لا داسختی نوری نشو تیرولی ، ځه چې ځنی ولاړشو ، دخدای (ج) دنیا پراخه ده وطن ته به

واوړودمجاهدینو سره به یو ځای شو(یاتخت اویا تخته) خویاسین ورسره ونه منله اوویی ویل چی خدای (ج) راباندی راوستی ده تیرووبه یی رحـیم جـان نه مـنعه کیدواوبالاخره یی ځنی رخصت واخیست اوویی ویل که ژوندی وم ډیرزربه راشم اوداتوره شپه به سبا کړم ، په دواړه مخه اوتندی باندی یی رحیم ښکل کړاوډیریی ورته وژړل ځکه چی اخرنی دیدن یی ؤ

دسترګو اوښکي یي په سپینه زړه خولۍ پاکي کړي اوترډیره یي ورته کتل ترڅو چي دیاسین دسترګو نه

ورك شو ، شپی ورو وروخپل تورڅادر راغوړاوه اورحیم یی پخپله غیږه کی پټاوه رحیم خو وطن ته واوړیدو په غزا یی لاس پوری کړددغی ملکانو دظلمونو زوربه یی هم دخلقیانواوپرچمیـــانو څخه ویـسته هغه ته هرخلقی اوپرچمی زرمت ښکاریده درحیم ارمان خوړوره شو خودیاسین دشپی خوبونه یي لاپسی حرام کړل که څه هم رحیم ځوان ؤ خوبیا هم یاسین ته کوچنی ښکاریده .

فکر به یوړوچی چیرته اوپه څه حال کی به وی خپله بوه ورځ ځنی هیره وه بس رحیم جان به یی سترګو ته ولاړ ؤ اوکه پریشانی به هم یوړونو په خوبونو کي به یی لیده .

درحیم څخه یاسین دوطن دازادی ډیری مینی هیر کړی ؤ داړه شوی ؤ په زړه کی بهیې ویلی چی ځوان دی خامخا به لاره چاره پیداکړی خوخبرنه ؤ چی دده دراتګ څخه وروسته یاسین دډیرتعقیب لاندی نیول شویدی .

نن درحیم یاسین ډیرپه یاد شو دمازدیګر داوداسه لپاره کوزی ویالی ته کوزشو اودس یی وکړدراپاڅیدو سره پری ددښمن .دتوپ یوه ګولۍ ولګیده اودویالي تولی اوبه یی په وینو سره سری شوی دمجاهدینو دورتګ سره بیا په رحیم کي هیڅ نه وُپاتی دخدای (ج) حضورته په اوداسه

کی ورغلی ؤ . مجاهدین هك پك شول چی داڅه چل وشو خوسرګروپ صاحب وویل چی اللهﷻ به پوهیږی اوکاریې،اوامر یی وکړ چی هلی دکفن دفن غم وکړی همغه وه چی سبا سحرلس بجی یی رحیم جان دکوزی ویالی په غاړه دنورومجاهدو شهیدانو سره په خواکی ښخ کړ ، مجاهدین نه پوهیدل چی یاسین څوك دی اویا سین بیچاره به چیرته لټوی ځکه چی رحیم خپل ځای پوره نه وُښودلی اوربنتیا هم رحیم بیچاره به کوم ځای ښودلی وای .

رحیم که هلته شهید شو نودیاسین دمرګ لپاره دلته پلمه جوړه شوه .

دتوردل یولوده زوی ؤ چی سپی جنګول اوکوتری الوځول یی یواځنۍ وظیفه وه پدی خپل چاپیریال کی یی دواده لپاره یوه حیاناکه پیغله خوښه شوه .

په ډیرو جرګو مرکوبې ورنکړه ځکه چی دملك صاحب زوی خو په ټول کلی کی ښکاره سړی ؤ .په ملك صاحب باندی دانکارخبره ډیره بده ولګیده فقط دومره یی ورته وویلی چی ښه دی ونه کړل ، دیاسین بیچاره دمرګ بنا یی وکړه ترڅو دامړی دپیغلی په ورونو ورواړوی اوددی په بدل کی به تری نه لوروکړی .

دجمعی په شپه یی یاسین غریب دځلوروقاتلانو سره یوځای دخپل باغ په طرف ولیږه یخ ژمی ؤ داسی یخ یخ باد لګیده چی دمغ کاسه یی الوځوله خودیاسین بیچاره پری هیڅ پروانه وه رنګ یی الوتی ؤ پښې یی رپیدی باغ ته په ورسیدو تری نه خونخواره یوه خوااوبله خوا شول یوه بل ته یی وخندل اوُاشاری یی سره وکړی .

یاسین ډیر زاری منت وکړوچی اخر په کومه ګناه می وژنی مادرسره څه بدکړی دی پدی وخت کی یی درحیم ډیرارمان وکړ چی کاشکی زه هم ورسره تللی وای که هرڅه کیدل شوی به وای .

بی رحمو انسانانو پری

دکلاشینکوف یوجاغورتش کړاوپه ځمکه یی راوغورځولو غټ ، غټ واښه یی په وینوسره شول اوهرواښه تری نه دخپل ښایست لپاره غوټی غوټی وینه ونیوله قاتلان پخپله مخه ولاړل اویاسین غریب یی په باغ کی پریښود .

سهاردوخته ملك صاحب دپیغلی په ورونو دعوه وکړه چی زما ګران یاسین تاسی وژلی دی دپیغلی پلارحیران شو هیڅ یی هم نشو ویلای اخر دملك صاحب خوله وه هری خبری ته تیارؤ اوبالاخره دننواتو سره دلور ورکولو ته تیارشو .

دملك صاحب دزوی واده ښه په ډنګ ډونګ کی وشو خوراکونه ؤ کبابونه ؤ اوخوشحالی وی یاسین بیچاره دچا په یاد هم نه ؤ چی اخر یوانسان خوؤ .

اودغه شان دیوه لوفر دګوردودانیدو لپاره دیاسین دژوند مزی ورغوځی شوی . (۱۱) کاله وروسته چی سیدخان دبنده راخلاص اوپه ډیره سخته دشیرزمان ماما کورته راورسید اودخپلو زامنو پوښتنه یی تری نه وکړه چی اوس خوبه که خیروی زلمی

په (۶) مخ

په تیرپسې :

موږ په افغانستان کې څه ولیدل ؟

«دمسلم زیار»

په موږ هغی خواته پام شو دوی دبلی لوری زموږپرصفونوبرید پیل کړهغوی دزمروپه شان په غرونوکی ختل ، روښانه ښکاریده چی داشمان له لوری کوم نالیدلی قوت ددوی ترڅنګ دی ، چی دوی به یی زموږله سترګو پناه کول دی جنګ چی روسان په کومه اندازه دمایوسی سره مخامخ کړل ترهغی وروسته زما په زړه کی لازیات دمجاهدینو دلیدو تلوسه پیدا شوه ماسره په دی لاره کی دوه تنه نورهم ملګری ؤ دالله ﷻ په برکت چی هغه ساعت زموږپه نصیب شو روسی پوځیان وېده ؤ

موږوروپاڅیدو اونږدی سیمی یوې څنډی ته مو ځانونه ورسول هلته مو په ډیر احتیاط سره مجاهدین پیداکړل هغوی سره یوځای شوو اوخپله وسله مو ډیو واړه سوغات په توګه دوی ته وړاندی کړه .

دده یو بل ملګری بسم الله وایی:

«زما کورپه «ماسکو » کی دی اوس زه (۲۱) کلن یم ، زه دوه کلن وم چی روسی پوځیانو زما پلار وتښتاوه تراوسه په زندان کی دی تراوسه ماته معلومه نده چی دکوم جرم په اساس زما پلار پر دومره اوږدی جزاباندی محکوم شوی .

دری کاله وړاندی زه په پوځ کی شامل شوم ، دپوځی روزنی وروسته یی کابل ته راولیږلم ترراولیږلودمخه زما یوه ملګری ډیر پټ ماته وویل : موږ تاسودکابل خواته ځو ، هلته زموږ تاسو مقابله دچینی پوځیانو سره ده چی دافغانستان ترنیولو وروسته اوس دروسیې دپولوپه خواد پرمختګ په حال کی دی خو چی کابل ته راغلو ماهیڅ چینی پوځی ونلید ما خپل همأغه

ملګری ته چی داخبره ثٔ راته کړی وه وویل :

« موږ ته خو صاحب منصبانو په روسیه کی ویلی ؤ چی زموږ تاسو مقابله دچینایانو سره ده ، خودلته چی اوس ګورم فکرکوم چی هغوی موږته دروغ ویلی ، دلته خو زموږتاسو جنګ دافغانی مجاهدینو سره دی »

هغه زیاتوی :

«کله چی وپوهیدم زموږجنګ له مجاهدینوسره دی اوموږیې دافغانانو دازادۍ سلب کولو لپاره راليږلی یوودخپل پوځ څخه می کرکه پیدا شوه ، دمجاهدینو سره زمامینه زیاته شوه ، زما په ډول هرڅوك ددوی سره بایدمینه وکړی څوك چی دانسان له ازادۍ سره مینه لری کله چی هغوی موږننګرهارته راولیږلوزما په زړه کی مجاهدینو سره ډیو ځای کیدو هیله پیدا شوه ، ماته داموقع په لاس راغله زه ورسره یوځای شوم هغوی برحقه دی اوزه دحق ترڅنګ دریدل غواړم زه ددوی سره مینه لرم چی له مړینی نه ویریږی اودهغه خواته دزمرو په شان وررروان دی .

«غوربیا»

دغیرتونو بهیر

داسی فکر کوی چی پخپله دمجاهدی سره دزړه خواله کوی اوچی بیا د«توری ایری – سپین پلو» لولی داسی انګیری چی پخپله دغزنی په دښتی کی دمجاهد شهید مورته مخامخ دریدلی اوپه پراخی دښتی کی دهغی له اوښکو سره خپلی اوښکی بدرګه کوی.

د«غیرتونوبهیر» دجهاد دواقعیتونو له بحر څخه څو ځاځکی دی چی په ښه واقعی اوریالستیك ډول منعکس شوی اوپه زغرده ویلی شو چی دجهاد ژوندی تاریخ دی لکه چی لیکوال پخپله دکتاب په سریزه کی لیکی : «دغیرتو نو بهیر » ته شا ید څوك دافسانوڅوك دناولونو اوڅوك هم دداستانونو ټولګه ووایی خوزه یی نه افسانه بولم نه داستان نه ناول اونه کیسه بلکه دازما دمجاهد و خلکو اوهیوادوالو دتوری اومیړانی» همت اوغیرت ژوندی تاریخ دی

اوچی کله لوستونکی کتاب لولی دلیکوال پردی ادعا دریښتنولی مهر لګولی اودزړه له تله به یی ورته دادعا له خولی راوځی چی «په قلم یی برکت شه »

موږپه پای کی ددی ترڅنګ چی محترم «وحدت» صیب ته ددی کتاب دخپریدو مبارکی وایوهغه ته په دی لاره کی دلا بریالیتوب دعا کوو . والسلام

پرافغانانو دټولې نړۍ مسلمانان ...

چي څنګه موږدروسانو مقابله وکړه ، اودهغوي دقوت اوقدرت پوځ ، وسلو اووسايلو مقابلي ته دالله تعالي په مرسته اوکمك اودخپل ايمان په قوت ټينګ ودريدو اوماتي اوشکست موورکړ.

اوس يوه بله مقابله زموږمخي ته ده اوهغه هم په افغانستان کي دننه دملحدينو سره مقابله اودافغانستان نه بهردهغو باطلو طاقتونو سره چي په شريکه زموږله لاسه دجهاد اوهجرت په نتيجه کي پخه شوي ميوه تروړي اونه غواړي چي په افغانستان کي اسلام غالب اوهلته يوسوچه اسلامي نظام رامنځ ته شي .

ملګرواودوستانو :- اوس خلك وايي چي ددغي اسلامي جهاد ميوه کافرحاصلوي . هرطرفته خفګان اودحيراني فضا خپره ده ، اخرولي دجهاد په پيل کي به چي له موږڅخه څوك شهيد يا ټپي کيده اويا به دبل کوم مشکل سره مخامخ کيده نودهغه په جذبه کي به نورزيات والي راتللو . مجاهدين به نورهم قوي اومنظم کيدل حال داچي په هغه وخت کي دښمن ډير زيات قوي ؤ.

خو هغه وخت موږداړه وو ، اوموږ: ټولو جهاد في سبيل الله کولو زموږدالله تعالي په مرسته اوملګرتيا باندي پوره يقين اوباورؤ د۱۲ کلونو دجهاد په نتيجه کي موږدصفرڅخه دقرب الهي په لورپه وړاندي ولاړو موږدالله (ج) رضا اومرسته ترلاسه کړه په دنيا کي مو شهرت وموند ، دستروويارونوخاوندان شوو اوپه دوستانو کي مو زيات والي هم راغي اوس نودغه حيراني خفګان اوپريشاني ولي ده ددي سبب څه دي ؟!

زه پوهيږم چي ددي يوسبب دادي چي کله په افغانستان کي روسان موجود وو نوټولو ښځو ، کوچنيانو ،سړو ، ځوانانواوزړودهغوي مقابله کوله يوډول اتفاق موجودوو . فتنه اوفساد موجود نهٔ چي ددغو مصيبتونو دخلاصون لپاره دعاګاني غوښتل کيدي . کله چي روس ووت اوملحدينو دفاعي حالت وموند نوځينو دکمزوري عقيدي خاوندانوچي په دي نه پوهيدل چي کافر که په يوه ځاي کي هم غالب اويا برلاس وي نوبيا هم جهاد فرض دي يعني ترڅو پوري چي مسلمانان مغلوب وي جهاد فرض دي کومو خلکو چي داخبره هيره کړه هغه دروس دتښتيدو نه وروسته په کرارکښيناستل ، ددنيا په کاروباندي لګياشول خداي پاك يي هم هيرکړو خپل دښمن يي هم هيرکړو اوپه استراحت بوخت شول ، حال داچي صرف په پخواني جهاد باندي به موږالله تعالي ونه بخښي ترپايه په ايمان اسلام اوجهاد پاتي کيدل ښايي . ايا په جهاد پريښودواونه کولو باندي به الله تعالي موږوبخښي داچي موږپه جهاد کولو کي غفلت کړي دي نودالله (ج) خوښي اونصرت هم زموږڅخه لري شويدي اوس په سلوکي لس کسه هم دغه فريضه نه ترسره کوي .

دوهم سبب يي دادي کله چي روس ووت نودااحساس زيات شو چي اوس دحکمرانۍ اوپا چا هۍ وخت دي اوس به زه کومه وظيفه اخلم اوپه کومه چوکۍ به کښينم دغي احساس هم موږدجهاد څخه لري کړو اوموږته يي کمزورۍ پريشانۍ اوناهيلۍ پيداکړه

اوس نوچي موږدغه تعهد کړيدي په عالمانو ، قوماندانانو ، مجاهدينو اومهاجرينو ټولوباندي دافرض ده چي ددښمنانو دټولو دسيسو دناکامولو لپاره په جهاد اوقتال باندي زورواچوو.

موږددښمنانو ټولي ناپاکې هيلي دجهاد په واسطه ختمولاي او ورکولاي شو اوپر موږباندي ددښمنانو دهرډول توطئو په ضد په عملي ډول عکس العمل څرګندول لازم دي ، عالمان اوقوماندانان ټول پدي خبره رضا اويو موټي دي چي ددښمنانو ټولي هيلي ناکامي کړو اودغه کارموږدعمل په صورت کي ترسره کولاي شو روس دافغانانو دميړاني اوبهادري په واسطه ووتلو نه داچي جنيوا دپريکړو اوتجويزونو په واسطه .

اوس هم که موږګرمي اويخني په نظر کي نيولو نه پرته دجهاد سنګرونه تاوده کړل نودالله پاك مرسته اوملاتړ زموږملګري دي اوالله (ج) به ددښمنانو ويره زموږدزړونو څخه وباسي .

زه خپل ځان يوقوماندان نه بلکي ځان دعالمانو يوسپاهي ګڼم څنګه چي ذاکري صاحب وويل چي يوه کميټه جوړه کړاي شويده اوداوظيفه ورکړاي شويده چي په راتلونکي وخت کي به ديوه اسلامي حکومت دجوړيدو لپاره خپله پروګرام طرحه اويوه پاليسي جوړه کړي اوچي کله ددغي ګډي اوشريکي طرحي له مخي کوم اسلامي حکومت جوړشي موږبه ددغي حکومت پوره حمايت مرسته اوساتنه کوو.

دحقاني صاحب له وينانه دمخه مولانا عبدالله (ذاکري) پخپله وينا کي وويل چي دافغانانو قرباني دټولي نړۍ څخه دکمونيزم دمنګولو دخلاصون اوتغرورټولو لو سبب شوي ،

ورونو : اول موږبواځي دروس په مقابل کي جهاد کولو اوس زموږدښمن ډير قوي شويدي ځکه چي امريکه ،چين ، برطانيه ، اونورټول غير مسلم طاقتونه دروس ترشا ولاړدي اوهغوي پخپل ګډاوشريك قوت سره غواړي چي داسلام سپاهيان کمزوري کړي .

تاسو وليدل چي داسلام ددښمنانو لخوا دافغانستان دمسئلي داواري لپاره کوم تجويزونه راوړاندي کړاي شول ملګرو ملتونو چي زموږپه هکله کومه پريکړه کړيده داداسلام اودشريعت محمدي (ص) له مخي مردوده ده موږداهيڅکله نشو منلاي موږدنجيب منحوس تجويزونه اوغوښتني نشو منلاي چاچي د۱۲ کلونو په جريان کي افغانستان په هديره باندي بدل کړيدي اوددغه هيواد عزت ، عظمت ، شرافت ، اواقتصادي تباه کړيدي.

موږديهوديانو په څير په اسلام کي تحريف نه شو کولاي موږدبي طرفه حکومت منلو ته تيارنه يوپه اسلام کي بې طرفي هيڅ مفهوم نلري ځکه څوك چي نه ملحدوي اونه کافر وي اونه مسلمان وي نوبيا به هغه څه شي وي ؟!

آخر کومو خلکو چي ۱۲ کاله په جهاد کي برخه نده اخيستي هجرت ئي ندي کړي دجهاد خبره يي نده کړي نه په ژبه اونه په قلم اومالي جهاد يي هم ندي کړي آخر موږهغوي ولي ومنو اوهغه به څنګه حکومت وکړاي شي؟!

موږصرف اوصرف اسلامي حکومت منو اوموږته بله هيڅ کومه طرحه دمنلو وړنه ده والسلام

ګڼوم داچې افغانان هغه قوم اوهغه ولس دی چې داسلام لپاره وجنګیدل اوپه کافر باندې غالب شول دټولې نړۍ مسلمانانو دمال ، عقیدې اودعا له مخې په دې جهاد کې شریک دي اودافغانانوسره په کامیابیو اوکامرانیو کې هم برابره ونډه لري

دروسی امپراتورۍ زوال ...

له دی سره سم نړیوال ذهنیت هم بدلیږی د زبرځواکونو سام اوهیبت له ولسونو نه لری کیږی - دآزادۍ اوخپلواکۍ ناری اوشعارونه زورنیسی ، اوبالاخره په لنډه موده کی دروسی استکبارله ګیډۍ نه پخوانی خوړلی هیوادونه سرونه راوباسی دغه استکباری امپراطوری ، وړه کیږی تجزیه کیږی ،رسوا کیږی او لا به خدای (ج) خبردی چی په راتلونکو وختونو کی په کوم انجام محکومیږی؟!!

خو!

ټولی نړۍ ولیدل اوټول کائنات پری شاهدان دی چی روسی امپراطوری دچا له لاسه ورانه شوه ؟ دروس داقبال ستوری چا پری یوست اودکمونیزم مادی فلسفه چاپه خاوروومږښله ؟!

ټوله نړۍ پوهیږی اوټول کائنات شاهدان دی چی دغه ستره کارنامه دغه ستره معجزه اودغه لویه حادثه مجاهد افغان اوتوریالی مسلمان ترسره کړه ، دروس استکباری ماڼۍ دهغو تکبیرونو په چیغو ونړیده چی دهندوکش اوسپین غر په څوکو کی دمجاهد افغان له کومی پورته کیدی.

دروس نړیخوراستکبارداړۍ هغو غازیانو ماتی کړی چی پرهیواد یی دمادیونوواکداری نه درشددقانون حاکمیت غوښت خوسره له دی نن بیا نړۍچوپه ده ، نن نړۍچوپه ده نن دسکوت په تیارو اوخپو کی پټه ده ،زموږدمؤمن ملت توره دبل چاپه نامه شویده ، زموږدغازی ولس دپت پګړۍبل چاته پر سروراینبودل کیږی اونړۍچوپه ده له چانه داعتراض اواحتجاج غږنه خیږی ،څوك نه وایی چی دروغ دی - روس مجاهد افغان رانسکورکړی دی نه‌لویدیځ اوامریکا ، هیڅوك هم دانه وایی چی موږخولیدل، موږاوریدل چی روس له افغانی غازیانونه فریادونه کول اوروس دافغانی غازیانو په متو دماتی اونابودۍ دکندی په لوری ورښکیل دی .

په ۷ مخ

پوښتنه یی مه کوه ...

شوی وی چی جهاد ته ولاړشی شیرزمان حیران شو خواخر یی دسووسلګیو سره دټولی قصی نه خبر کړ دقصی دخلاصیدو سره سم سیدخان په خندا شو اوخندا یی لا پسی زیاتیده دکوتی څخه راووت اومنډی وهل یی شروع کړی اوس نوچی دهرچا سره مخامخ شی نودایوه خبره کوی چی پوښتنه یی مکوه که خبرشی نوخوابدی به شی .

په افغانستان باندې دروسي استکبار يرغل

جواد پيلامه وينا وکړه اودروسي وحشيانو په مقابل کي يي دافغانستان دمجاهدينو مقاومت وستايه.

وروسي دارشاد اوفرهنګ دکميسيون رئيس دلجو حسيني حاضرينو ته پريکړه ليك ولوست چي دتکبير په غږونو سره بدرګه اودتائيد وروګرځيد.

وروسته بيا دحزب اسلامي مرستيال مولوي عبدالوارث عالمانه ويناوکړه ويي ويل : اوس ددي وخت رارسيدلي دي چي مجاهدين په افغانستان کي يواسلامي منتخب حکومت جوړکړي خوروس اوامريکا دمکر اوفريب څخه په استفادي سره ددي حکومت دجوړيدو مخنيوي کوي اوهم يي ددښمنانو پرنوي پلان رڼا واچوله زياته يي کړه چي دښمنان غواړي ظاهرشاه په موقت ډول قدرت ته ورسوي او وروسته بيا دنجيب په ګډون انتخابات ترسره شي .

دپروګرام په وروستي برخه کي دګورباچوف اونجيب ناولي څيري دګډون کوونکو له خوا وسوځول شوي اوپدي توګه يي خپله کرکه څرګنده کړه غونډه دقاضي محمد حکيم «حکيم » په دعائيي سره په يوولسو بجو پاي ته ورسيده

دشوروي پارلمان اجلاسیه دوره گورباچوف ته دزیات صلاحیت په ورکولو سره پای ته ورسیده

له مسکو څخه دتاس خبري آژانس خبر ورکړی چی دشوروي دپارلمان اجلاسیه دوره پای ته ورسیده اوجمهوررئیس گورباچوف ته یی زیات صلاحیت اوقدرت ورکړ.

اوس کابینه یا اجرائیه قوه مستقیماً دده ترکنترول لاندی راوستل شوه.

خبرڅرگندوي چی گورباچوف دمرستیال په ټاکلو کی نږدی ؤ چي شکست وخوري مگر دپارلمان په دوهم ځل رای گیري کی گینادي ینایف وکولی شول دجمهوررئیس دمرستیالي منظوري ترلاسه کړي.

دیونان حکومت دهغه هیواد پخواني جمهوررئیس خوشی کوي

دیونان دکیڼ اړخ مبارزینو ددي هیواد دمحافظه کارحکومت پر هغه تصمیم باندي احتجاج کړیدي چي غواړي هغه پخواني پوځي صاحب منصبان عفوه کړي چي د۱۹٦۷ کال په کودتا کي قدرت ته رسیدلي وو.

دیونان صدراعظم میسوتاکیس دجدي په ۷ نیټه څرگنده کړه چي دده حکومت به دهغو اتوتنو له جملي اووه‌تنه عفوه کړي چي دکودتا رهبري یي کړي وه اوپه یونان باندي یي اووه‌کاله پوځي دیکتاتوري وچلوله.

په خوشي کیدونکو کسانوکي پخوانی جمهوررئیس جورج پا پا دوپولوس هم شامل دی.

دتونس مسلمانو مبارزینو دالجزایر یوه الوتکه کښېنوله

دتونس دووتنو مبارزو مسلمانانودالجزایر یوه الوتکه چی ۸۸ تنه مسافر پکی سپاره ؤ دالجزایر شمال ختیځ خواته داناب بندري سرحد ته نږدي دجدي په ۷ نیټه کیښنوله.

داکاردتونس دحکومت دهغه تاوړه عملونو په مقابل کی شوی دی چی په اسلامي مبارزینو یی ترسره کوي.

نوموړومبارزینو دالوتکی ټولی ښځی اوماشومان خوشی گړیدي اوله سپرلیو سره یی ښه چلند کوي.

دوي دخپلو هغو تونسي مبارزو ملگرو دخوشی کیدو غوښتنه کړی چی په تونس کی بندیان دي.

دجاپان صدراعظم په کابینه کی بدلون راوست

دنړیوالو خبرچینو درپوټ له مخی دجاپان صدراعظم دخپلی کابینی زیاتره وزیران بدل کړي دي ، یواځی دبهرنیو چاروامالیی وزیران یی پر خپل ځای پاته کړل .

نوی کابینی دجدي په ۸ نیټه دخپلی استعفا دوړاندی کولونه مخکی د۱۹۹۱ کال لپاره څه دپاسه ۵۲۱ملیاردو ډالرو بودجه منظوره کړه.

پدغه بودجه کی دخارجي مرستو اوحکومتي کارونو لپاره دلگښتونو زیاتیدل پیشنهاد شویدي.

افغانان را...

بتواند به جنگ پایان دهد .

«روبن » درادامه میگوید : روسها هیچگاه اماده نیستند که به عوض رژیم نجیب حکومت بنیادگرا بمیان اید ولی افراد واشخاصی نیزموجوداند که میشود روسها برانها راضی باشند.

شاید روسها باین تغیر ترجیح دهند که یا قسماً نظام گذشته تحت رهبری ظاهر شاه بمیان اید ویا بعضی ازقوماندانان مستقل که روسها فکرمی کنند باپاکستان روابط نزدیك ندارند درحکومت انتقالی سهیم گردند.

به عقیده روبن درپالیسی موجوده روسیه دررابطه به افغانستان عناصر مثبت ومنفی هردو موجوداست . عنصر مثبت درین پالیسی موافقه روسها به انتخابات وعنصر منفی ، پافشاری برادامه قدرت نجیب تاختم مرحله انتخابات میباشد .

داکتر«موسکا لینکو »آمر شعبه اسیای جنوبی بخش شرق شناسی اکادمی علوم روسیه گفته است که حمله برافغانستان ومداخله درامورداخلی انکشوریك اشتباه بوده واین پالیسی مداخله گرانه درامورافغانستان گویا با خروج قوای روسی ازافغانستان پایان یافته است .

-وی گفته است با خروج قوای روسیه ما اماده گی گرفتیم تاازاشتباهات گذشته دست بکشیم ، حمله برافغانستان یك اشتباه بسیاربزرگ بود که این تصمیم توسط چندنفر سیاستمدار عالیرتبه اتخاذ گردیده بود .

وی گفت :افغانان رابايد آزاد گذاشت تاسرنوشت خودراخودشان تعين کنند.

دروسی امپراتوری زوال ...

اوموړپوهیږوچی داهم یوشیطانی سازش دی ، یواستکباری چل دی چی که مجاهد افغان اویو رښتینی مسلمان دیوه استکباردماتی ویاړخپل کړی دفتحی تاج پر سر کړی بیا خو داستکبارپه مقابله کی رقیب پیداشو ، بیا خوددی جهان خلیفه اووارث جوړیږی اوبیا خوشیطانی‌ایزمونه اواستکباری ځواکونه ټول دتل لپاره خپل تغر ټولوی نوځکه نن زموږدمؤمن ملت ویاړونو،اتلولیو، توروااوقربانیو ته استکبار نوی نوی قهرمانان !!! اواتلان!!! تراشی .

زموږمسلمان ملت اوټول اسلامی امت باید په دی وپوهیږی چی که استکبارپه دی چل اونیرنگ کی بری وړی نوربنتیا ده چی دنړۍ دواکمنۍ مقدمه یی گټلی اوبیا به خدای (ج) مه کړه داسلامی حکومت اواسلامی خلافت فکر اوخیال هسی خوب اوخیال وی چه نه به حقیقت لری اونه به سم تعبیر شی .

پر اسلامی نړۍ فرض ده چی زموږله مسلمان ولس سره دوروستی بری تروروستی گامه همگام وي پرې نږدی چی پر نړۍ یوځل بیا یوشیطانی ذهنیت حاکم شی چی که روس رانسکوریږی نودامریکا په مټو اوامریکا به یی ځای نیسی،نه مسلمانان اواسلامی امت ، همدغه فرصت دی چی اسلامی نړۍ یوځل بیادخدای (ج) پر مځکه دخدای (ج) نظام دقیام لپاره په یوه غوڅ اویوه گام راپورته شی اوخپله شانداره ماضی خپل تیر عظمت اوخپل تللی کرم اوشان بیرته راژوندی کړی اوپری نږدی چی دمسلمان دتورو، شهامتونو اوقربانیو ویاړدبل چا په نامه شی . والسلام

اسرائیلي های که به حبس ابد محکوم بودند بعد ازشش سال حبس رها شدند

آخرین سه تروریست ازآندسته قاتلین یهودی که بجرم حملات قاتلانه برفلسطینی‌ها به حبس ابد محکوم شده بودند بعدازسپری نمودن صرف شش سال ازیك محبس اسرائیلی رها گردیدند.

رادیو صدای امریکا گفت : این سه نفر ازان بیست وچارنفر اند که درسال ۱۹۸۳ درپوهنتون اسلامی شهرهبرون طی حمله به ماشیندارسه محصل فلسطینی رابه قتل رسانیده وبیش ازسی تن رامجروح ساخته بودند.

این گروه تروریستی همچنان عامل حملات بابم نیزبوده است که دوشاروالی ساحل غرب رودااردن رابی دست وپا نمود.

رادیو گفت رئیس جمهوراسرائیل مدت حبس این تروریست ها را به بهانه های مختلف سه بارتخفیف داده بود ومقامات محبس نیزبه نسبت گویابرخوردخوب انها میعاد حبس انها بازهم تنزیل داده ازحبس رها نمودند .

این امر نشان میدهد که دولت نام‌نهاد یهودی به یهودی های خویش اجازه میدهد که دربرابر فلسطینی های بی دفاع به هرعمل خائنانه دست بزنند.

ولې روسان دکابل له حکومت ...

کوی چی دهغی په نتیجه کی یی زړه دغو مرستوته ښه کړی دی .

لومړی خوسیاسی گټه تری اخلی، هغه داسی چی دکابل رژیم دبقا په صورت کی روسان دمنځنی آسیا دمسلمانوجمهوریتونو دتجزیی اوهلته داسلامی حرکتونو دشدت نه تریو حده ډاډه پاتی کیدلای شی .

روسان په دی پوهیږی چی که مجاهدین په افغانستان کی حکومت جوړکړی نودابه له روسیی نه دمسلمانو جمهوریتونو دبیلتون اوپه دغه جمهوریتونو کی داسلامی حکومتونودجوړیدو مقدمه وی اوبالاخره دابه دشوروی دکاملی تجزیی اوټوټه ټوټه کیدلوپیلامه شی .

دوهم اقتصادی گټه،داسی چی یوخوروسان خپلی ټولی مرستی دقرضی په بڼه کوی ، اوپه دی ټمه دی چی که ددوی مزدوررژیم پرځای پاتی شی نویوه ورځ به داپورونه حتماً اداکوی بل داچی روسان په هغو سیموکی چی ددوی په لاس کی دی پوره کارکوی اوڅه طبیعی شتمنۍ چی هلته شته دهغو په لوټ کولو اودمعدنونو په استخراج بوخت دی اوبالاخره افغانستان (کابل) دروسانو دپاره دمنفعت اوگټی نه ډك مارکیټ په شکل تبدیل شوی ، روسی تولیدشوی اشیا چی پخوایی هم په نړۍ کی دخپل خراب کیفیت په وجه غوښتونکی نه درلودل په زوردروسی امپراطورۍ په مستعمرو کی خرڅیدل اواوس چی دختیځی اروپا هیوادونه ددغه جبر نه خلاص شوی روسان مجبوردی دااشیا په هرډول چی وی په فروش ورسوی اوددغه مقصد دپاره یی بهترین ځای کابل موندلی دی.

نوداهغه عوامل دی چی روسان دی ته اړباسی چی دخپلی لوړی سره سره دکابل مزدوررژیم سره مادی اوپوځی مرسته وکړی.

په جنوبي افریقا کی دخوراکي موادو کمبود

دخوراکی موادو اودکرهنی نړیواله سازمان خبرداری ورکړی چی دجنوبی افریقی . گڼ هیوادونه به په راتلونکی کال کی دخوراکی موادو له کمبود سره مخامخ شي.

نوموړی سازمان ویلی دی چی پدغه سیمه کی ۱۵ هیوادونه دخوراکی موادو دسختو نیمگړتیاو سره مخامخ کیدونکی دی .

پدی هیوادونو کی شمالی حبشه اوسوډان هریو به په ۱۹۹۱ کال کی دغلی یوملیون ټنو مرستی ته اړتیا ولری.

دروسي امپراطوري زوال ...

نن موږ په خپلو سترګووینو چی دیوه شیطانی زبر ځواك دبنیاد مانۍ ورچیده ولړزیده اولا ویجاړوونکی لړزی اوټکانونه پکی دوام لری اوموږ وینو چی هره ورځ دکبر ، غروراووحشت له دغې مانۍ نه نوی خښتی لوېږی — نوی درزونه پکی راپیدا کیږی اونوی برجونه یی نړیږی ...

نن موږ دکمونیزم دمادی فلسفی اوپوچی ایډیالوژی دماتیدو زیږی اوروډروسی استکباردمانۍ درانسکوریدو انګازی مو په غوږونو کی ازانګی کوی ، دهغی امپراطوری دسقوط اوزالویدوصحنی اونندارې په خپلو سترګو وینو چی سبا ته به دفارس ، روم ، یونان ، کارتاژ... اونوروله منځه تللیو سترو امپراطوریو اوهیروشویو مدنیتونو په څیر دتاریخ دپاڼو یو متروك باب جوړوی .

رښتیا هم چی عجیبه ده ، څوکاله وړاندی پر نړیوالو یو ذهنیت حاکم ؤ چی نن هغه ذهنیت بلکل نشته ، څوکاله وړاندی نړۍ دمادی زبر ځواکونو په ډله کی دروس اوامریکا — لویدیځ اوختیځ توراوسره مسکو اوواشنګټن اویا دسپینې مانۍ اوکریملن طرفونه په رسمیت پیژندلی ووهره مسله ، هره ربړه ،هره پیښه اوهره مشوره پرهمدغو دووځواکونو ، دوو قطبونو ، دوو نومونو اودوو اصطلاح ګانو پوری تړل کیدله ،دنړۍ اوپه ځانګړی ډول ددریمی اووروسته پاتی نړۍ ټول دامیدنظرهمدغو دووقطبو نو په لوری ؤ اوپه اصطلاح دغو دووسترومادی ځواکونو هم ټوله نړۍ په خپل منځ کی سره ویشلی وه ،هغوی هم دامنلی وه اوپه ټولو یی دامنله چی رښتیا هم په نړۍ کی همدغه دوه قوتونه دی — همدغه دوه پاچاهی دی اودنیازمنو اړه اواحتیاج بوازی همدغه دوه زبر ځواکونه او امپراتوری پوره کولی شی اوبس .

دغو دووقطبونو په نړۍ کی له ځانوپرته نورهیڅ په رسمیت نه پیژندل نورهیڅا ته په خپلواکۍ ، ازادۍ — اوخپلواك تصمیم اواراده قایل نه ووهمدغه سوچ ،همدغه خیال اوذهنیت زیږنده وه چی دکرملین اوسپینی مانۍ واکدارانو دتسلط ساحی ورځ په ورځ پراخیدی — دواکمنۍ قلمرو یی ورځ په ورځ لوئیده اودحکمرانۍ پولی یی مخ پروړاندی روانی وی ، ددی وړاندی تګ په بهیر کی دروسی استکبارپیښه ترآموراواښته اوپر افغانستان یی پیښه وشوه . دلته دی چی پوچ خیالونه اوغلط سوچونه رسواکیږی اوسپك کیږی همدغه مهال دروسی استکباردواکداری ستوری مخ په ځوړشو اودلته ؤ چی دآمو سیند دیوی لویی استکباری امپراطورۍ ، یوې پوچی فلسفی ، یوی کړېی ایدیالوژۍ اودوینو ، ستمونو اووحشتونو پر پښو ولاړی واکمنۍ دواکمنۍ دمعراج ورروستۍ پوله ثابتیږی اوچی له دغی پولی پښه اړوی نو تاریخ یی نوربری نه،ماتی ثبتوی ،

پرمختګ نه په شاتګ یی انځوروی اوله وحشتونو سره یی ذلتونه اوفریادونه خوندی کوی، په (٦)مخ

هشت پوسته رژیم درهرات فتح گردید

خبرگزاری حکومت مؤقت اسلامی افغانستان (میدیا) ازقول یك منبع جهادی گزارش داد که مجاهدین طی یك عملیات موفقانه هشت پوسته رژیم کابل رادراطراف شهرهرات به تصرف خویش دراوردند .

خبرحاکیست درین عملیات که مجاهدین شش ولسوالی هرات بصورت مشترك سهم گرفته بودند ازتاریخ ۲۵ تا۲۸ قوس قرای پرت کلان ، پرت خورد ، قلعه یادگارسفرخان ،قلعه خواجه ، ناوك راازوجودعناصر دشمن پاکسازی کردند .

طبق یك خبردیگرمجاهدین فرقه حضرت حمزه (رض) برپوسته های رژیم درامتداد شاهراه کابل هرات درحصص «بدلو » و«جلور» انجام دادند که بالاثرسه پوسته نظامی رژیم فتح ویك مقدارسلاح ومهمات بدست مجاهدین به غنیمت افتاد .

اسرائیلي عسکرو (۲۵) تنه فلسطینیان وویشتل

دنړیوالو خبری سرچینو درپوټ سره سم اسرائیلی عسکرو دغزی په اشغال شوی تړانګه کی دتیری جمعی په ورځ ۲۵ تنه فلسطینیان ویشتلی اوزخمیان کړیدی .

رپوټونه وایی چی په سلګونو عسکرو ددی سیمی په اوسیدونکو ډزی وکړی چی ترټولو سختی نښتی دخان یونس په سیمه کی وشوی .

داسرائیلو پوځ ددغی اشغال شوی سیمی په ځوبرخو کی پر ګرځیدو باندی بندیزولګاوه.

همدارنګه دپنجشنبی په ورځ داردن دسیند په لویدیځه غاړه کی یوه اسرائیلی افراطی پر دریو فلسطینیانو ډزی وکړی اوهغوی یی ټپیان کړل .

نوموړی اسرائیلی چی عسکری دریشیې یې اغوستی وه اودیهودیانو مخصوصه خولۍ یی پر سر وه دخپل موټر څخه یی ناڅا په ډزو شروع کړی .

په هرات کی مجاهدینو ۱۷۹ تنه پوځیان...

ګډون څپل شوي او١٦ تنه خادیستان دمجاهدینو له خوا ژوندي نیول شوي دي .

په خبر کی څرګنده شویده چی ددی بریدونو په ترڅ کی ٤٠ تنه ملیشیان دخپلو وسلوسره مجاهدینو ته تسلیم شوي ددښمن یوعراده ټانك اویوه عراده لارۍ ویجاړشویدي.

دمجاهدینوڅخه ١٦ تنو دشهادت لوړمقام ګټلی دی . موږ دخدای (ج) یو اودخدای (ج) لورته ورتلونکي یو .

پاکستان داتومي بم جوړولو حق لري

«مولا نا فضل الرحمن »

دجمعیت العلماي اسلام لوي ناظم مولا نافضل الرحمن په یو خبري کنفرانس کي ویلي دي چي پاکستان ته هم دهند په څیرداټومي بم جوړولوحق حاصل دی اوموږ په دي رابطه دسترو طاقتونو هیڅ فشارته غاړه کېنږدو، همدارنګه هغه وویل چي دخلیج لانجه باید دسولي له لاري حل شي اودامریکا- یي پوځونو په موجودیت کي دغه ربړه لالانجه منه شویده ، هغه وویل چي امریکا په ډېره ځیرکتیا سره اسلامي نړۍ دجګړې په میدان بدلول غواړي ، مولانا فضل الرحمن دنیول شوي کشمیر له مسلمانانو سره دپیوستون اوهرډول ملاتړاعلان وکړ.

دهیئت تحریر ترنظر لاندي

مکاتباتي پته

پوست بکس (۱۰۳۳)

یونیورستي تاؤن پیښور

تیلفون :... (٤١٧٤٦)

دملګرو ملتونو دعمومي اسمبلی رئیس فلسطیني کمپونه ګوري

دامریکا غږرادیو خبرورکړی دی چی دملګروملتونو دعمومي اسمبلی رئیس دېمارکو په نظر کی لري چی په راتلونکي اونۍ کي داسرائیلو تراشغال لاندی سیمو اواردن کی فلسطیني کمپونوته ولاړشي .

دملګروملتونو یوه ویندوی دجدي په ۷ نیټه خبریالانو ته وویل :

مارکو به مخکې لدی نه چی په دغو کمپونو کی دفلسطینیانو وضعه په خپلو سترګو وګوري ، دجدي په ۱۳ نیټه به داسرائیلو دخارجه وزیر سره کتنه وکړي .

دغه کتنه دملګرو ملتونو دعمومي اسمبلی دقوس د۲۹ می نیټی دهغی پریکړی په تعقیب کیږي چی ویل شوي ؤ داسرائیلو تراشغال لاندی سیمو کی دی دوضعی په باب تحقیق وشي .

په بادغیس کې ددښمن ۱۰۰ تنه پلویان ځپل شویدي

په هغو رپوټونو کی چی له بادغیس څخه میډیا ته رسیدلي ویل شویدي چي دمزدوررژیم قواؤ دچشمهٔ سلطان دنیولو دپاره دقوس په ۱۵ نیټه دبادغیس ولایت له مرکز قلعهٔ نو څخه دنوموړي سیمی په لورحرکت وکړ،پدی لړکی کفر وژونکو مجاهدینو دلاری په اوږدو کی پری حمله وکړه.

په نتیجه کی دمزدوررژیم څه دپاسه ۱۰۰ تنه پوځیان په هلاکت رسیدلي اویا ټپیان شویدي .

رپوټ زیاتوي چی پدی حملو کی یومیل پي کا ،۵۰ میله کلاشینکوفونه، دوه میله راکټونه اودوی عرادی نظامي لارۍ دمجاهدینو له خوا په غنیمت نیول شویدي.

پدی نښتوکی ٥تنه مجاهدین شهیدان شول.